مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

ژباړه: سمسور ودان ۲۰۲۳/۰۱/۲۸

# مجازي نړۍ

## لنډه کیسه

یوه ورځ په پارک کې د اور ترڅنګ ناست وم او انټرنېټ مې کولو، په دې وخت کې یو ۸ او یا ۹ کلن ماشوم راغی، په لاس کې یې ټوکرۍ وه، ژاولې یې پکې ایښې وې او له سړو (یخني ربړېده) .

ما ته یې وویل: کاکا جان! ساجق میخري ( ژاولې اخلې)؟

ما وویل: ماتې روپۍ نلرم! نشم کولی چې له تا څخه ژاولې واخلم؛ خو که چیرې اور ته کښینې او ځان ګرموې کیناستی شې، هغه هم وویل: سمه ده کیدای شي نور څوک به راشي او ژاولې څخه به راڅخه واخلي.

بیا یې وویل: کاکا! ته په دې موبایل کې څه ګورې؟

ما چې فیسبوک کولو، ورته ومې ویل: مجازي نړۍ ګورم او په مجازي هوا کې ګرځم؟

هغه وویل: مجازي فضا او دنیا څه شی وې؟

ما چې د نوموړي ځیرک ماشوم دغه سوال واورېده، ورته ومې ویل: مجازي نړۍ هغه نړۍ ده چې لمس کولی یې نشې کولی؛ خو ستا مصروفیت ټول هلته وي او غواړې چې په هغه دنیا کې ټول شیان له ما سره وي!

هغه وویل: ښه؛ نو مجازي نړۍ ته خو زه هم ډېر ځم راځم او ډېره یې خوښوم، ټول زړه مې هلته دی!

ما وویل: ښه نو انټرنېټ لرې؟

هغه وویل: نه!

ما وویل: نو بیا څنګه په مجازي نړۍ کې هم ګرځې راګرځې!

هغه وویل: کاکا جانه! پلار مې په زندان کې دی، هر وخت د هغه دیدن ته ورځم او یو څه شیان ور وړم؛ غواړم چې هغه لمس کړم؛ خو په مخ کې مې سیخان او اوسپنې دي، چې نشم کولی هغه لمس کړم؛ خو له هغه سره مې ډېره مینه ده او کوم بل ماشوم چې له خپل پلار سره ووینم ما ته هم پلار راپاد شي، هغوی یې لمس کولی شي؛ خو زه نشم کولی!...

مور مې سهار ۶ بجې له خوب راپاسي او ۷ بجې د کار له پاره نورو کورنو ته ولاړه شي، د شپې ۹ یا ۱۰ بجې راشي، زه په دغه وخت کې ویده یم، ډېره مې زړه غواړي چې له هغې سره کښینم او خبرې ورسره وکړم؛ خو نشم کولی!...

کله چې زما کوچنی ورور ډوډۍ په اوبو کې لمده کړي او بیا یې وخوري، فکر کوم چې سوپ خوري؛ خو تر اوسه سوپ ما هم نه دی خوړلی؛ خو ډېر یې خوښوم، مګر نشم کولی!...

ډېر مې زړه غواړي چې په اینده کې ډاکټر شم او له دې ستونزمن ژوند خلاص شم؛ خو زه مکتب ته له دی امله نشم تللی چې خپل کور ته پیسې راګټم؛ مکتب مې ډېر خوښیږي؛ خو نشم کولی!...

اوس نو ته ووایه: کاکا! دا نو مجازي نړۍ نشوه، نشم کولی هغوی لمس کړم او ژوند ورسره تیر کړم؛ خو ټول مې خوښ دي.

په دغه وخت کې مې له سترګو اوښکې روانې شوې؛ خو ومې نشو کولی چې څه ورته ووایم، یوازې دا مې وکولی شول، چې خپلې اوښکې صفا کړم او د هغه پر سر لاس راکش کړم!

ژباړه/ ۲۰۱۵ ستمبر
سمسور ودان



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼي پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولـئ